# خپل حقونه وپیژنئ: اجرايوي فرمان فدرالي پروګرامونو ته لاسرسی ګواښوي
# مارچ 12، 2025

په مارچ 1، 2025،، ولسمشر ټرمپ د [14224](#) اجرايوي فرمان صادر کړ چې انګلیسي یې د متحده ایالاتو رسمي ژبه اعلان کړه او د [13166](#) هغه اجرايوي فرمان يې لغوه کړ، چې د ولسمشر کلنټن لخوا په 2000 کې صادر شوی و او هغو کسانو لپاره یې خدمتونو ته لاسرسی ښه کړی و چې محدود انګلیسي مهارت لري.

د ژبې حقونه په اوږدمهاله فدرالي او ایالتي فرمانونو کې ژوري ریښې لري، کوم چې زمونږ د انفرادي او ډله ایزې روغتيا، خونديتوب او هوساينې ساتلو، او همدارنګه د دې ډاډ ترلاسه کولو لپاره خورا مهم دي چې ټولې ټولنې، د دې په پام کې نیولو پرته چې مونږ کومه ژبه کاروو، وکولی شي په یو مخ پر ودې ټولنه کې برخه واخلي او ونډه ولري. که څه هم دا موجوده فدرالي او ایالتي قوانین د ټرمپ د اجرايوي فرمان لخوا بدل شوي ندي، مګر دا فرمان د ټولو لپاره د ژبې معنی لرونکي لاسرسي په لور د دوو لسیزو څخه ډېر پرمختګ ګواښوي.

د آسیا د قانون کاکس (Asian Law Caucus)، د کالیفورنیا کلیوالي حقوقي مرستي، شرکت
(California Rural Legal Assistance, Inc.) (CRLA)، او د لاس انجلس د حقوقي مرستې بنسټ
(Legal Aid Foundation of Los Angeles) (LAFLA) دا FAQ (په مکرره توګه پوښتل کيدونکي پوښتنې) رامنځته کړی ترڅو د ټولنې ډلو او ایالتي او محلي چارواکو سره د ټرمپ د اجرايوي فرمان 14224 د حد او اغیزې په پوهیدو کې مرسته وکړي.
مونږ به د دې تحلیلولوسره سم چې فدرالي اداري دې فرمان ته څه ډول ځواب وايي د دې پاڼې تازه کولو ته دوام ورکړو.

دا *FAQ* یوازې عمومي لارښووني چمتو کوي او باید د قانوني مشورې په توګه تعبیر نشي. پدې سند کې معلومات ښايي د وخت په تیریدو سره بدلون ومومي. که ستاسو سازمان قانوني مرستې ته اړتیا لري، یا که تاسو د دې موضوعاتو په اړه نورې پوښتنې لرئ، مهرباني وکړئ اړیکه ونیسئ:

- د *Asian Law Caucus* سره په 415-896-1701 یا *[asianlawcaucus.org/contact](#)*
- د *.California Rural Legal Assistance, Inc* سره په 1-800-337-0690 یا *[crla.org/locations](#)*
- د *Legal Aid Foundation of Los Angeles* سره په 1-800-399-4529، *[/lafla.org/get-help](#)*

په مکرر ډول پوښتل کیدونکي پوښتنې

## Q: د انګلیسي په اړه د متحده ایالاتو د رسمي ژبې په توګه اجرايوي فرمان 14224 څه کوي؟

دا فرمان انګلیسي د متحده ایالاتو د رسمي ژبې په توګه اعلانوي. دا فرمان اجرايوي فرمان 13166 هم لغوه کوي، چې په 2000 کې د ولسمشر کلنټن لخوا لاسلیک شوی و.

د کلنټن د 13166 اجرايوي فرمان له مخې فدرالي ادارې اړ وې چې داسې پلانونه جوړ او پلي کړي چې هغو اشخاصو ته چې د انګلیسي محدود مهارت لري اجازه ورکوي په معنی ډول په فدرالي توګه ترسره شوو پروګرامونو او فعالیتونو ته لاسرسی ولري. د کلنټن فرمان فدرالي ادارې پدې هم اړ کړې وې چې د هغو ادارو لپاره د ژبې د لاسرسي لارښود خپور کړي چې فدرالي تمویل ترلاسه کوي، ترڅو د ټولو لپاره معنی لرونکی لاسرسی ډاډمن کړي.

د ټرمپ اجرايوي فرمان 14224 له لوی څارنوال څخه غواړي چې د EO 13166 لاندې صادر شوي د پالیسی د لارښوونې کوم اسناد بیرته واخلي او "تازه شوې لارښوونې" چمتو کړي،" مګر هغو فدرالي ادارو یا سازمانونو لپاره چې فدرالي تمویل ترلاسه کوي اړین نه ګرځوي چې د ژبې هغه موجوده ملاتړ ودروي چې دوی یې ښايي هغو خلکو ته چمتو کوي چې د انګلیسي پرته نورې ژبې کاروي.
اجرايوي فرمان وايي چې "په دې فرمان کې هيڅ شی ... د کومې ادارې لخوا چمتو شوي خدمتونو کې کوم بدلون ته اړتیا نلري یا یې

امر نه کوي" او دا چې اداري "اړ نه دي چې د انګليسي پرته په نورو ژبو کې چمتو شوي يا ورانديز شوي اسناد، محصولات، يا نور خدمتونه تعديل کړي، لرې کړي، يا يې په بل ډول ودروي."

مګر، دا به وليدل شي چې ايا فدرالي اداري، په خپل اختيار سره، د ژبې د ملاتړ هغه مقدار بدلوي يا کموي چې دوي يې د انګليسي محدود مهارت لرونکو اشخاصو لپاره چمتو کوي، يا د ژبې لاسرسي "تازه شوی" لاربنود صادروي چې د پخواني لاربنود څخه د پام وړ توپير لري.

## Q: د متحده ايالاتو د رسمي ژبې په توګه د انګليسي نومول کېدل څه اغيزه لري؟

متحده ايالات د 350 څخه زياتو ژبو کور دی، چې له 69 مليون څخه ډېر خلک پرې خبرې کوي. هره ورځ، ښوونځي، روغتيايي اداري، محکمې، او نورې دولتي اداري په ټولو کچو کې په بيلابيلو ژبو کې سرچيني او خدمتونو چمتو کوي. زموږ انفرادي او ډله ايز روغتيا، خونديتوب، او هوساينه د دې ډاډ ترلاسه کولو پورې اړه لري چې زموږ ټولو ټولنو سره مؤثره او معنی لرونکې اړيکه او لپاره يې د ژبې لاسرسی شتون لري.

د ټرمپ د اجرايوي فرمان 14224 سره سره، او حتی د اجرايوي فرمان 13166 پرته، د ژبې لاسرسی د قانون له مخې اړين دی. اجرايوي فرمانونه نشي کولی موجوده قوانين يا مقررات لغوه کړي.

سربيره پردې، په متحده ايالاتو کې هر کس – پرته له دې چې له کوم ځای څخه راځي، د دوی د انګليسي ژبې مهارت څومره دی، يا د دوی د کډوالۍ حالت څه دی – د ملي اصل پر بنسټ د تبعيض په وړاندې خوندي دی، په شمول د ژبې. فدرالي او ايالتي قوانين د کڼو او د اوريدلو ستونزه لرونکو ټولنو لپاره د اشارې ژبې تفسير ته اړتيا لري.

موږ بايد، د اړتيا په صورت کې، په ګډه د ژبې د لاسرسي دغو موجوده قوانينو او مقرراتو لاندې خپل حقونه وڅارو او پلي يې کړو.

## Q: د دې نوي اجرايوي فرمان سره سره، د قوانينو او مقرراتو ځينې مثالونه کوم دي چې ژبې ته لاسرسی اړين ګرځوي؟

د 1964 کال د مدني حقونو قانون **VI** سرليک د فدرالي تمويل ترلاسه کونکي د "ملي اصل" پر بنسټ د تبعيض کولو څخه منع کوي، په کوم کې چې سترې محکمې دمخه د ژبې پر بنسټ تبعيض شاملولو لپاره تشريح کړې. د سرليک VI مقررات هغه شرايط هم په ګوته کوي چيرې چې د ژبې خدمتونه بايد چمتو شي.

د 1973 کال د بيارغوني قانون 504 برخه او د معلوليت لرونکو امريکايانو قانون (**ADA**) د نورو اسانتياوو سربيره، د کڼو او د اوريدلو ستونزه لرونکو اشخاصو لپاره د اشارې د ژبې ژباړونکي خدمتونو اړين ګرځوي.

نور فدرالي حکمونه چې په ځينو شرايطو کې د ژبې لاسرسی اړين ګرځوي عبارت دي له، مګر ور پورې محدود ندي:

- د 1968 کال د اومنيبس جرمونو کنټرول او خوندي سړکونو قانون (د قانون پلي کونکي، محکمې)
- د ارزانه پاملرنې قانون 1557 برخه (روغتونونه، روغتيايي کلينيکونه، د روغتيا بيمې صادرونکي، د دولتي ميډيکاډ اداري، د ټولنې روغتيايي مرکزونه، د ډاکټرانو تمرينونه او د کور روغتيايي پاملرنې اداري؛ نور دلته وګورئ)
- د فوډ سټيمپ قانون (د SNAP ګټو اداره کونکي ايالتي او ځايي اداري)
- د کارې ځواک د نوښت او فرصت قانون (ايالتي او ځايي اداري چې د کارموندنې اړوند ګټې اداره کوي)
- د رايې ورکولو د حقونو قانون 203 برخه (د ټول ټاکنو مواد)

- د کور اړوند عادلانه چارو قانون (ایالتي او ځایي اداري چې د کور اړوند عادلانه چارې ډاډمن کوي)
- د مساوي تعلیمي فرصتونو قانون (1974) (ښوونځي/تعلیمي شرایط؛ نور دلته وګورئ)
- د سټافورډStafford ) قانون (FEMA د ناورین سره مرسته؛ نور دلته وګورئ)

د ایالت د تبعیض ضد قوانین او د ژبې د لاسرسي اړتیاوې ښایي په ځآیي او ایالتي ادارو کې پلي شي، د ځینو خدمتونو چمتو کونکو په شمول.

د لسیزو راهیسي، فدرالي ادارو د ژبې لاسرسي پلانونه او پالیسی هم رامنځته کړې چې په فدرالي قانون او د اساسي قانون خوندیتوبونو کې ریښې لري چې لاهم نافذ دي.

## Q: د ټرمپ فرمان پر فدرالي تمویل ترلاسه کونکو، لکه ځایي محکمې، ښوونځي او روغتونونو، څنګه اغیز کوي؟

د فدرالي تمویل ترلاسه کونکو کې کیدی شي شامل وي، د مثال په توګه، ایالتونه او ښاروالی، ایالتي محکمې، روغتونونه او د ډاکټر دفترونه، هغه ایالتي او ځایي اداري چې عامه ګټې اداره کوي، او عامه ښوونځي. د فدرالي تمویل ټول ترلاسه کونکي باید د موجوده قانون تعقیبولو ته دوام ورکړي او د ژبې لاسرسی چمتو کړي. لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه، ډیری داسي قوانین او مقررات شتون لري چې د ژبې لاسرسي ته دوام ورکوي، د لیکلي ژباړې، شفاهي او د اشارو د ژبې ژباړې، او د هغو خبرتیاو په شمول چې د ټولني غړو ته د ژبې ملاتړ ته د لاسرسي په اړه مشوره ورکوي. اجرایوي فرمانونه نشي کولی په سمه توګه موجوده قوانین لغوه یا بدل کړي.

په داسي حال کې چې مونږ څارنه کوو چې فدرالي اداري دې بدلون ته څنګه ځواب ورکوي، ځایي او ایالتي حکومتونه او اداري چې فدرالي تمویل ترلاسه کوي – په شمول د ښوونځیو ناحیو او روغتونونه – کولی شي بیلا بیلو ژبو خدمتونو ته د دوی دوامداره ژمنې تاییدولو سره د خلکو لپاره د ثبات او خوندیتوب سرچینې په توګه کار وکړي. د فدرالي فنډ ځیني ترلاسه کونکي، لکه د هاوایي ایالت قضایي قوې، د ژبې معنی لرونکي لاسرسي ډاډمن کولو لپاره خپله ژمنه دمخه بیا تایید کړې ده.

## Q: ایا خلک لاهم د هغو ایالتي ادارو او سازمانونو څخه چې فدرالي تمویل ترلاسه کوي د دوی په اصلي ژبه کې د ژباړونکي یا لیکلي اسنادو غوښتنه کولی شي؟

هو! په ډیری مواردو کې، هرڅوک لاهم قانوني حق لري چې د هغو پروګرامونو او خدمتونو څخه د ژبې مرستې ترلاسه کړي چې فدرالي تمویل ترلاسه کوي. پدې کې د هغو کارمندانو سره اړیکه نیول چې د دوی ژبه شریکوي، د وړ شفاهي ژباړونکو سره کار کول، او/یا ژباړل شوي اسناد ترلاسه کول شامل دي. د I Speak Cards په څیر سرچیني هم کولی شي د ټولني غړو سره د دوی د اصلي ژبې په پیژندلو او د ژبې د مرستې خدمتونو غوښتنه کولو کې مرسته وکړي.

## Q: که چیرې یو فرد ته د یوه ایالتي اداره یا سازمان چې فدرالي تمویل ترلاسه کوي د ژبې لاسرسي رد کړي نو هغه باید څه وکړي؟

که چیرې یو فرد هڅه کوي د هغې یوې ایالتي ادارې یا سازمان لخوا چمتو شوي خدمتونو ته لاسرسی ومومي چې فدرالي تمویل ترلاسه کوي او د دوی ورته په اصلي ژبه کې د شفاهي ژباړونکي یا ژباړل شوو اسنادو چمتو کولو څخه انکار وکړي، نو هغوی باید د قانوني خدمتونو چمتو کونکي څخه مرسته وغواړي.